اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د يومِ دعوتِ اسلامي (2 ستمبر 2023) په موقع شائع شوي د "ماهنامه فيضانِ مدينه" د "خاص نمبر" نه اخستے شوے دے.

# فيضانِ دعوتِ اسلامي

## د دعوتِ اسلامي د ترقئ لارې

از: شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال
محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

فيضانِ دعوتِ اسلامي ستمبر 2023

د هر تنظيم د ترقئ د اسبابو نه يو سبب د هغه تنظيم په کسانو کښې اتفاق او اتحاد کيدل هم دي، که اتفاق نه وي نو افرادي قوّت د زيات کيدو باوجود هُم تنظيم ترقي او عروج نه شي حاصلولے. د اتفاق د فضا قائم ساتلو درس مونږ ته په قرآن کريم کښې ملاويږي، چنانچه کښې اِرشاد کيږي:

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ

او د **الله** او د هغه د رسول تابعداري کوئ او خپل مينځ کښې بے اتفاقي مه کوئ کني تاسو به بے زړه شئ او ستاسو قُوَّت (طاقت) به لاړ شي.

(پ10، الانفال:46)

او مسلمانانو ته د اتفاق او اتحاد تعليم ورکولو کښې رسولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے: ټول مسلمانان د يو عمارت په شان دي د کوم يوه حصّه چې بلې ته طاقت رسوي او حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د دې ارشاد فرمائيلو په دوران کښې] خپلې ګوتې مبارکې په يو بل کښې ورکړې. (بخاری،ج2ص127حدیث:2446) په يو ځائے کښې حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د مسلمانانو په خپل مينځ کښې د دوستئ، رحمت او شفقت مثال د بدن په شان دے، چې کله د بدن يو اندام بيمار وي نو په تبه او بے خوبئ کښې ټول بدن د هغه سره شريک وي. (مُسلِم ص1071 حدیث6586)

ياد ساتئ! د اِتِّفاق او اِتِّحاد مثال د تار په شان دے، که تار يواځې وي نو معمولي شان جټکے سره اوشليږي خو که ډير تارونه را يو ځائے کړي او رسئ ترينه جوړه کړے شي نو دا دومره مضبوط شي چې د دوئي په ذريعه غټ غټ څيزونه تړلے يا راښکلے شي، هُم دا معامله د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اسلامي هُم ده چې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الکريم په دې لـمونځ ګُزاره جوړوونکي، د سُنَّتو پابند جوړوونکي غير سياسي انټرنيشنل ديني تنظيم دعوتِ اسلامي کښې د اِتِّفاق او اِتِّحاد فضا قائمه ده او تر څو پورې چې دا فضا قائمه وي دعوتِ اسلامي به په ديني کارونو کښې مسلسل ترقي کوي او که خدانخواسته په دې کښې اِتِّفاق او اِتِّحاد ختم شو نو ستاسو دعوتِ اسلامي د کمزورئ او زوال طرف ته تلے شي. (رَبُّ الْعِزَّت دې د دې آفت نه زمونږه حفاظت اُوفرمائي.)

په يو تنظيم کښې د اِتِّفاق او اِتِّحاد نه کيدلو ډير وجوهات کيدے شي مثلًا په هغې کښې د داسې خلقو شامليدل په کومو کښې چې د قُوَّتِ فيصله د صلاحيتونو کمي وي يا جذباتي وي يا د هر يو سره يو شان تعلقات نه ساتونکي وي نو دغسې په هغه تنظيم

کښېږي په قلاره ګروپونه جوړيدل او بغاوت خوريدل شروع شي او دا د هغه تنظيم دپاره نقصاني وي، لِـهذا مونږ ته د هر هُغه کار نه بچ کيدل ضروري دي د کوم کار سره چې جُدائي، انتشار يا بے خوندي خوره شي يا بے اِتِّفاقئ پيدا شي او مونږ ته هر هُغه جائز کار کول پکار دي د کوم سره چې د اِتِّفاق او اِتِّحاد فضا برقراره اوسي، د دې دپاره د دعوتِ اسلامي ټولو ذِمَّه دارو اسلامي ورونړو ته پکار دي چې خپلو ماتحتو اسلامي ورونړو سره د مينې محبت او مُسکا سلوک کوي، د مشرانو ادب کوئ او په کشرانو شفقت کوئ او خپل مينځ کښې مشورے سره ديني کار کوئ، مه څوک رټئ، مه څوک بے عزته کوئ، ټولو سره د نرمئ، شفقت او مينې محبت سلوک کوئ. هم دغسې دې اسلامي خويندې هُم په خپل مينځ کښې هُم دا انداز ساتي.

فرد قائم ربطِ ملت، سے ہے تنہا کچھ نہیں　　　موج ہے دریا میں، بیرونِ دریا کچھ نہیں

ورسره ورسره تاسو ټولو ته زما دا وصيت دے چې هميشه هُم هغه کار کوئ په کوم چې **الله** پاک او د هغه خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راضي کيږي، د هغوئي د ناراضئ والا کار هيڅ کله هُم مه کوئ، اګر که په هُغه کار کښې درته په ظاهره هر څومره فائده ښکاري. بهر حال چې تر څو پورې د **الله** پاک او د هغه د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداري کوئ، د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د ټولو انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام، صحابۀ کرامو او اهلِ بَيتِ اِطهار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم او اوليائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم محبت په زړونو کښې لرئ او د هغوئي په نقشِ قدم باندې روان اوسئ تر هُغې پورې به اِنْ شَآءَ اللّٰہ د کاميابئ د منزل په طرف روان اوسئ! او که د دې لارې نه لرې شئ نو بيا کاميابي ناممکنه ده. اعلٰی حضرت، امام اهلِ سُنَّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ خپل معيار جوړ کړئ، ما د هغوئي سيرت لوستلے دے، د

هغوئي فَتَاوٰیٰمي لوستلي دي، هغوئي صرف هُم هغه خبره کوي کومه چې د قرآن او حديث مطابق وي، ما په هُم دي وجه د هغوئي لـمن نيولي ده چې هغوئي مونږ ته د قرآن او حديث لاره ښائي، که مونږه د هغوئي په تعليماتو عمل کوو نو د ناکامۍ هيڅ وجه نشته.

يقيناً زمونږه منزِل د **الله** پاک او د هغه د خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا حاصلول او جَنَّت ته تلل دي، د دې دپاره جدّ و جهد جاري ساتئ، او کله هُم خپل دعوتِ اسلامي مه پريږدئ! بلکه که څوک دِيکې هُم درکړي نو د عشقِ رسول جامونه تقسيموونکے، لـمونځ ګُزاره جوړوونکے دعوتِ اسلامي به کله هُم نه پريږدئ، دې پورې کلک نښتي اوسئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم دا په سُنَّتو چلوونکے دعوتِ اسلامي به تاسو ضرور د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قدمونو مبارکو ته اورسوي او د هغوئي په قدمونو کښې به مو کيږدي. ټول دعوتِ اسلامي والا اسلامي ورونړه او اسلامي خويندېد د مرکزي مجلِسِ شوریٰ وفادار اوسئ، د شريعت په دائره کښې اوسيدو سره د اراکِينِ شوریٰ او د خپلو دعوتِ اسلامي والا ذِمَّه دارانو فرمانبرداري کوئ، تر څو چې د شريعت حکم نه وي شوے تر هغې پورې د دوئي مخالفت مه کوئ ، د دوئي په باره کښې د بے ځايه تنقيد کوونکو، د دوئي خلاف خبرې کوونکو او سازشونه کوونکو نه لرې اوسئ. **الله** پاک دې د تبليغ قرآن و سُنَّت په انټرنيشنل تنظيم دعوتِ اسلامي کښې اِتِّفاق و اِتِّحاد قائم لري او دا دې د بے اِتِّفاقۍ او بد نظر نه په خپل امان کښې اوساتي. آمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَحابہ اور ولیوں کی، محبّت دل میں ڈالی ہے
لہٰذا دعوتِ اسلامی بھی ہرگز نہ چھوڑیں گے
ہمارا عہد ہے کہ دعوتِ اسلامی کو ہرگز
کبھی بھی ہم نہ چھوڑیں گے کبھی ہرگز نہ چھوڑیں گے

(نوټ: دا مضمون په 2021ء کښې د دعوتِ اسلامي ځلويښت کاله پوره کيدو باندې په يوه خصوصي انټرويو کښې د اميرِ اهلِ سنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ نه د يو تپوس د جواب په رڼا کښې تيار کړے شوے دے.)

# د نيکو اعمالو ضرورت

خليفۀ اميرِ اهلِ سُنَّت مولانا الحاج ابو اُسيد عُبيد رضا عطاري مَدَني مدظله العالی

فيضانِ دعوتِ اسلامي ستمبر 2023ء

د يو ښار نه بل ښار ته تللو دپاره هر کس په قدر د ضرورت سامان ځان سره وړي، که سفر ئې مختصر او د لږو ورځو وي نو د لارې سامان ئې هُم لږ وي، او که سفر ئې اُوګد او د ډير وخت وي نو د سفر سامان هُم په هغه حساب وړي. دُنيا ته راغلے هر کس ګويا مسافر دے چې د عالَمِ ارواح نه عالَمِ دنيا ته راغلو او اوس د عالَمِ برزخ په طرف روان دے. ډيره عجيبه خبره داده چې د دنيا په سفرونو کښې د خپل سفر د سامان د کمي او زياتي ډير خيال لرونکے او ډيرې ورځې مخکښې تياري کوونکے نادان انسان د آخرت د سفر کوم چې هغه کله هُم د دې جهان نه وِيستلے او هُغه جهان ته رسولے شي د هغې په تيارۍ کښې کاهِل او سُست واقع شوے دے. زما د دې خبرې مشاهده هر باشعوره کس کولے شي. دلته د غالِب يو شعر ډير سبق آموز دے:

ٹھکانہ قبر ہے تیرا عبادت کچھ تو کر غالب
کہاوت ہے کہ خالی ہاتھ گھر جایا نہیں کرتے

د عاشِقانِ رَسُول دِيني تنظيم "**دعوتِ اسلامي**" په دنيا کښې اوسيدونکي تقريباً هر کس دپاره که هغه ماشوم وي او که لوئے وي، که ځوان وي او که بوډا وي که سړے وي او که ښځه وي د ټولو دپاره د يو زړه خوشحالوونکي زيري او بے بها نعمت نه کم نه دے. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الکريم! د آخرت توښه [زادِ راه] جمع کولو دپاره په دې کښې د هر يو دپاره د اصلاح سامان موجود دے. دغسې خو د دعوتِ اسلامي اهم ترين بنيادي دولس ديني کارونه هُم په عظيمو نيکو مشتمل دي البته اصطلاحاً په ډيرو فرضو او واجبو او سُنَّتو او مستحباتو باندې د مشتملې يوې رسالے

نوم ”نیک اعمال“ دے.

په دې کښې د ماشومانو دپاره 40، د اسلام وروڼو دپاره 72، د اسلامي خويندو دپاره 63 او عالِم کورس کوونکو طلبه (Students) دپاره 92 او عالِمه کورس کوونکو طالباتو دپاره 83 او چاړاګانو او ګڼو او نابینا کسانو (اسپیشل پرسنز) دپاره 27 ”**نیک اعمال**“ دي. که دا مختصره او جامِع رساله په غور سره اوګورئ نو په دې کښې د نمبر 01 نه واخله تر آخرې پورې د سوالاتو په صورت کښې مختلفې دیني، اخلاقي او معاشرتي د اصلاح لارې موجودې دي. د ”نیک اعمال“ په رساله باندې عمل کول د مختلفو ګناهونو مثلًا د غلا، ډاکے، د شرابو د نشے، بد نګاهئ، بے پردګئ، لمونځونو نه غفلت، د زکوٰة یا حقوقُ العبادو په معامله کښې بے پرواهئ، الغرض د هر قِسمه ګناهونو او بد اخلاقئ د طوفان په لاره کښې ګویا د بند [رکاوټ] ترړلو مترادِف دے. زما والدِ محترم، امیرِ اهلِ سُنّت علامه محمد الیاس عطّار قادري دامت برکاتهم العاليه په دې رساله کښې ګویا سمندر په کوزه کښې بند کړے دے. د رضائے اِلٰهی دپاره په اخلاص او استقامت سره دا نیک اعمال اختیاروونکے به نه صرف د آخرت دپاره سامان جمع کوونکے وي بلکه هغه به د معاشرے ”معزز کس“ هُم وي. په فضل د خُدائے رحمٰن و رحیم او د خَاتَمُ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فیضان سره چې امیرِ اهلِ سُنَّت د اُمَّت د اصلاح کومه بیړه اوچته کړې ده په هغې کښې ئې ډیره ډیره ترقي او کامیابي موندلې ده. د دې مردِ قلندر د حِکمت و دانائي او د نیکئ د دعوت عظیمې جذبے د کروړونو مسلمانانو اصلاح کړې ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الکریم! دا په عالَمِ اسلام کښې د یو ډیر لوئے انقلاب مقام لري. صرف معاشرتي خرابو باندې د تبصرو کولو په ځائے په خپل ځان کښې موجودې بدئ لرې کړئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الکریم خرابي به په ښیګړه کښې بدله شي. **الله** کریم دې مونږ ته په نیکو اعمالو د عمل کولو توفیق راکړي او نورو ته د دې د ترغیب ورکولو سعادت دې هُم رانصیب کړي. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# دعوتِ اسلامي کله هُم په شا نه دے تلے

د دعوتِ اسلامي د مرکزي مجلسِ شوریٰ نګران مولانا حاجي محمد عمران عطّاری مدظلہ العالی

فيضانِ دعوتِ اسلامي ستمبر2023ء

شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دامت برکاتھم العالیہ فرمائي: دعوتِ اسلامي چې د کله نه جوړ شوے دے د يو سيکنډ دپاره هُم په شا نه دے تلے."

ماشآءالله! د **دعوتِ اسلامي** به څه وائے! اميرِ اهلِ سُنَّت دامت برکاتھم العالیہ به په نُور مسجد (کاغذي بازار، مِيټهادر، کراچۍ) کښې د امامت فرائض سر انجام کول او د هُم هغه ځائے نه هغوئي په 2 ستمبر 1981ء کښې د دعوتِ اسلامي دِيني کار شروع کړلو. د کراچۍ ښار نه دعوتِ اسلامي شروع شو او نن د نيا تقريباً 164 ملکونو کښې د دعوتِ اسلامي د دِيني کارونو سلسله جاري ده

هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع: چې کله د هفته واري د سُنَّتو ډکې اجتماع شروع کولو ذهن جوړ شو نو په کراچۍ کښې د دې ښه ډير تشهير اوکړے شو او چې د کله نه دا اجتماع شروع شوې ده کله په شا نه ده تلې بلکه مسلسل زياته شوې ده، او دغسې په زياتيدو زياتيدو نن په پاکستان کښې د اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو 10 زره او 697 او د پاکستان نه بهر 1100 هفته واري د سُنَّتو ډکې اجتماعات کيږي.

مدني مرکزونه فيضانِ مدينه: چې کله د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع شروع شوه نو هغه وخت د دعوتِ اسلامي خپل يو فيضانِ مدينه هُم نه وو جوړ شوے،

اميرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: چې حضرت علّامه مولانا محمد شفيع اوکاړوي صاحب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خپل جُمات ګلزارِ حبيب راکړو او هلته اجتماع شروع شوه، چې کله د شرکائے اجتماع شمير زيات شو او جُمات د اجتماع دپاره ناکافي شو نو په محله سوداګران، زړه سبزي منډئ کښې ځائے واخستے شو او هلته د دعوتِ اسلامي وړومبے فيضانِ مدينه جوړ شو، د هغې نه پس دعوتِ اسلامي په شا نه دے راغلے او دغسې مدني مرکزونه جوړيدل جوړيدل نن د فيضانِ مدينه په نوم د دعوتِ اسلامي د مرکزونو شمير 417 دے.

جُماتونه جوړول: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د مجلِس خُدّامُ الْمَسَاجِدوَالْمدارس و تعميرات تحت وقتاً فوقتاً د جُماتونو جوړلو سلسله وي. کله د فيضانِ جمالِ مُصطفٰی په نوم جُماتونه جوړيږي نو کله د فيضانِ مشکل کُشا په نوم جُماتونه جوړيږي نو کله د فضانِ امير مُعاوِيه په نوم جُماتونه جوړيږي نو کله د فيضانِ قرآن په نوم جُماتونه جوړيږي، تر اوسه پورې 4 زره او 548 جُماتونه جوړ شوي دي.

مدرَسَةُالمدينه بالِغان و بالِغات: تر کله نه چې د مدرَسَةُالمدينه بالِغان و بالِغات سلسله شروع شوې ده نو تر اوسه پورې نه ده په شا شوې بلکه مخ په وړاندې روانه ده او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په زياتيدو زياتيدو نن د دعوتِ اسلامي د مدرَسَةُالمدينه بالغان و بالغات شمير زيات و کم 92 زره 948 دے.

مدرَسَةُالمدينه بوائز و ګرلز: که د ماشومانو جينکو او هلکانو د مدارس الـمدينه خبره اوکړو نو چې کله دا شروع شوې نو يو څو وې خو اوس اَلْحَمْدُلِلّٰه! په زياتيدو زياتيدو نن د دې شمير 4980 ته رسيدلے دے.

**جامِعةُالمدينه بوائز و ګرلز:** هُم دغسې چې كله **جامِعةُالمدينه** ګرلز اينډ بوائز شروع شوې نو يو دوه وې خو اوس اَلْحَمْدُلِلّٰه! په زياتيدو زياتيدو نن په پاكستان كښې د **جامِعةُالمدينه** ګرلز اينډ بوائز شمير 1053 او بيرون مُلك 339 دے.

**فيضان آن لائن اكيډمي بوائز و ګرلز:** هُم دغسې فيضان آن لائن اكيډمي بوائز و ګرلز شروع شوې [نو په دې شعبه كښې هُم] **دعوتِ اسلامي** په شا نه دے راغلے. د يو دوو شاخونو نه شروع شوې د فيضان آن لائن اكيډمي نن 47 شاخونه دي چې د دې نه تر اوسه پورې 43 زره او 61 طلبه و طالباتو تعليم حاصل كړے دے. او اوس دا وخت آن لائن 22 زره طلبه و طالبات زير تعليم دي.

**مدني قافلے:** هُم دغسې چې په **مَدَني قافلو** كښې سفر شروع شو نو دوه درې قافلو به سفر كولو خو د هغې نه پس [په دې شعبه كښې هُم] **دعوتِ اسلامي** په شا نه دے راغلے او بيا زياتيدې زياتيدې نن په پاكستان كښې د **مَدَني قافلو** شمير **23** زره او **753** دے او د سفر كوونكو شمير يو لاكھ **66** زره **271** او د بيرون ملك **مَدَني قافلو** شمير **659** دے او د سفر كوونكو شمير 5 زره او **345** دے. اِنْ شَآءَ الله دا سفر به جاري اوسي.

**دارُالافتاء اهلسنت (دعوتِ اسلامي):** دارُالافتاء اهلسنت (دعوتِ اسلامي) په 15 شعبان 1421 هجري مطابق 2000ء كښې په وجود كښې راغلو، د هغې نه پس [په دې شعبه كښې هُم] **دعوتِ اسلامي** په شا نه دے راغلے او اَلْحَمْدُلِلّٰه! عَزَّوَجَلَّ د دې لِيک د وخته پورې د پاكستان په مختلفو ښارونو كښې د دار الافتاء اهلسنت 14 شاخونه قائم شوي دي.

**تحريري كار:** اميرِ اهلِ سنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې كله تحريري كار شروع كړو نو د ټولو نه ورومبئ رساله ئې ''**تذكره امام احمد رضا**'' اوليكله او تر اوسه پورې ئې 146 كتابونه او

رسالے ليکلي دي چې د هغې د صفحاتو مجموعی شمير د 13 زره نه زيات دے او د غير مطبوعه کتابونو او رسالو تقريباً 13 سوه صفحات د دې نه علاوه دي.

المدينةُ العلميه: چې کله المدينةُ العلميه (Islamic Research Center) شروع شو نو هغه وخت په يو څو کتابونو کار شوے وو خو زياتيدو زياتيدو اوس تقريباً په 848 کتابونو او رسالو د تحرير، تحقيق، تخريج او ترجمے کار شوے دے او نور کار جاري دے.

مکتبةُ المدينه: چې کله د مکتبةُ المدينه آغاز اوشو نو دا صرف يوه وه خو بيا زياتيدې زياتيدې په ملک او بيرونِ ملک کښې د دې شمير تقريباً 150 ته رسيدلے دے.

مدنی چينل: دعوت اسلامي د اسلامی تعليماتو عام کولو دپاره په 2008ء کښې د دنيا واحد سل فيصده اسلامي چينل "مدنی چينل" په اردو ژبه کښې شروع کړو، [په دې شعبه کښې هُم] دعوتِ اسلامي په شا نه دے راغلے. په 2023 کښې مدني چينل د اردو سره سره په عربي، انګلش او بنګله ژبه کښې هُم نشريات پيش کوي. مدني چينل د ماشومانو دپاره "کِډز مدني چينل" نشريات هُم پيش کوي. نن د مدني چينل کتونکي په لاکھونو دي.

سوشل ميډيا: 11نومبر 2015ء کښې د سوشل ميډيا دعوتِ اسلامي ډيپارټمنټ کار شروع شو، بيا دعوتِ اسلامي په شا نه دے راغلے. صرف 9 کسانو نه د شروع کيدونکي دې ډيپارټمنټ اوس 10 سَب ډيپارټمنټ دي. د 50 نه زيات فيس بک پيجز، 30 نه زيات يوټيوب چينلز، 10 ټوئټر اکاؤنټس، 11 انسټا ګرام اکاونټس سره سره واټس ايپ ګروپونه، اي ميل ګروپونه او ډيرو سوشل سائټس باندې دا وخت دعوتِ اسلامي، اسلامي تعليمات عام کوي اَلْحَمْدُلِلّٰه! "سوشل ميډيا ډپارټمنټ" تقريباً څلور نيم کروړه خلقو ته صحيح اسلامي معلومات رسوي.

د دې نه علاوه د دعوتِ اسلامي ډير ديني کارونه دي، که تاسو د ديني کارونو جائزه واخلئ نو تاسو به دې نتيجے ته اورسيږئ بلکه چې لولئ لولئ نو شايد چې تاسو دا خبره اوکړئ چې ”اَلْحَمْدُلِلّٰه! د کله نه چې دعوتِ اسلامي جوړ شوے دے د يو سيکنډ دپاره هُم نه دے په شا شوے.“ **الله** پاک دې دعوتِ اسلامي د بد نظر نه اوساتي او ډيره ډيره ترقي او عروج دې ورعطا کړي. آمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اللہ! کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں

اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو

# د دعوت اسلامي د دِيني کارونو جهلکياني

## دعوتِ اسلامي او د کفارو د اسلام قبلولو واقعات

اسلام يو داسې زبردست او شاندار دين دے چې څوک څنګه کلمه اُووائي او په دې کښې داخل شي نو د هغه تير شوي ټول ګناهونه ختم [يعني معاف] شي.

نن هُم د اسلامي تعليماتو او نبوي اخلاقو د لوستلو او د مُبَلِّغِينِ اسلام د اخلاص نه ډکو زبردستو کوششونو په وجه کُفّار اسلام قبلوي. لکه څنګه چې د ”دعوتِ اسلامي“ د مُبَلِّغِينو د کوششونو په وجه د ټولې دُنيا نه د کُفّارو د اسلام قبلولو د واقعاتو خبرونه راځي. د اګست 2022ء نه واخله د اګست 2023ء پورې دې يو کال کښې [د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغِينو په کوششونو] د اسلام قبلوونکو شمير زيات و کم 8 زره دے.

### د دعوتِ اسلامي نور ديني خدمات:

مدارسُ المدينه (بوائز و ګرلز): د قرآنِ کريم د فِي سَبِيْلِ الله تعليم دپاره د مدارس الـمدينه

آغاز اوکړے شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې لیک د وخته پورې د ماشومانو هلکانو او جینکو د مدرسو شمیر 4980 نه زیات دے. ګویا دعوتِ اسلامي په خپلو 42 کالو کښې اوسطاً سالانه 118 مدرسے قائمې کړې دي.

**جامِعةُ المدینه (بوائز و ګرلز):** د دعوتِ اسلامي د عالِـمِ دِین جوړوونکې عظیمې شعبے "جامِعةُالمدینه" په ټوله دنیا کښې د دې لیک د وخته پورې 1382 شاخونه د عِلمِ دین رڼاګانې خوروي. که دا شمیر د دعوتِ اسلامي په 42 کالو باندې تقسیم کړے شي نو ګویا سالانه د زیات و کم 32 برانچونو آغاز شوے دے.

**فیضان آن لائن اکیډمي (بوائز و ګرلز):**

دعوتِ اسلامي د تعلیم ورکولو جدیدې ذرائع هُم استعمالوي او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې لیک د وخته پورې د فیضان آن لائن اکیډمي بوائز و ګرلز 47 شاخونه دي او سالانه د 1025 کسانو تعلیم پوره کیږي او اوس دا وخت آن لائن 22717 زره نه زیات طلبه و طالبات زیر تعلیم دي.

**د بالغانو سړو او زنانؤ دپاره مدرسةُالمدینه:**

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د 92 زره او 948 نه زیاتو مقاماتو کښې د بالغانو سړو او زنانؤ دپاره مدارِسُ المدینه قائې شوي دي، په دې کښې 4 لاکه او 76 زره او 745 نه زیات سړي او زنانه د قرآنِ پاک د ناظرے تعلیم حاصلوي.

**دارُالافتاء اهلسنت (دعوتِ اسلامي):** دا د دعوتِ اسلامي یوه ډیره اهمه شعبه ده. په مختلفو ښارونو کښې د دې قائمو 14 شاخونو نه اُمَّتِ مُسلِمه ته پیښیدونکو شرعي مسائلو کښې رهنمائي ورکولے کیږي. دار الافتاء اهلِسُنَّت نه اَلْحَمْدُلِلّٰه! ماهانه اوسطاً د 7000 نه زیاتو سائلینو

[سوال کوونکو] زباني رهنمائي کيږي او د 800 نه زياتې تحريري فتَاوىٰ جاري کيږي.

## اَلمدينةُ العلميه (Islamic Research Center):

د دعوتِ اسلامي په دې تحقيقي او تصنيفي شعبه کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه! تصنيف، تاليف، ترجمه، تخريج و تحقيق او تسهيل او حواشي په شان اهمو امورو باندې کار کيږي. د ”المدينةُالعلميه“ له طرفه د دې ليک د وخته پورې زيات و کم پاؤ کم دوه لاکه صفحاتو باندې مشتمل د 848 نه زيات کُتب و رَسائل چاپ کړے شوي دي، او د 750 نه د زياتو ويب ورژن جارى شوے دے. ګويا دعوتِ اسلامي د 42 کالو په جدوجهد کښې اوسطاً سالانه 38 کتابونه او 4000 صفحات د علمِ دين د خزانے سره پيش کړي دي.

## فيضان ګلوبل ريليف فنډ (FGRF):

د غريبانانو، مسکينانو، مسافرو، بے وسو او مجبورو او د زمکې او آسماني قدرتي آفتونو نه متأثره خلقو د مدد او خير ښيګړې دپاره د دعوتِ اسلامي FGRF (فيضان ګلوبل ريليف فنډ) د مسلمانانو د خير ښيګړې د عظيمې جذبے تر لاندې په فلاحي و رفاهي کارونو کښې مصروفِ عمل دے، د دعوتِ اسلامي دې شعبے د اګست 2022 نه د جون 2023 پورې تقريباً 48 لاکه او 46 زره او 547 کسانو ته د 52 کروړه 20 لاکه 63 زره 900 روپو پخ شوے خوراک ورکړو، تقريباً 2 لاکه 99 زره او 675 خاندانو ته ئې د ښځو د اوبو سره سره د پخ شوي خوراک په ځائے هره مياشت راشن ورکړو او د هغوئي د کفالت بندوبست ئې اوکړو د دې نه علاوه ئې د ټينټونو [تمبوانو] اور خيمو، کپړو، بسترو او نورو څيزونو، کيمپ (برائے امداد کليکشن)، د کوروړنو تعميرات او مرمت او د بلډ کيمپ هُم انتظام اوکړو.

**شجر کاري:** FGRF د شروع کيدو نه فوراً پس د وطنِ عزيز پاکستان د ماحول د بهترئ دپاره

د شجر کارئ [ونو کرلو] سلسله شروع کړه کومه چې مسلسل جاري ده تر اوسه پورې تقریباً 25 لاکه بوټي کرلے شوي دي چې په هغو کښې ډیر ونې هُم جوړې شوې دي.

**سوشل میډیا:** د سوشل میډیا په میدان کښې د 50 نه زیات فیس بک پیجز، 30 نه زیات یوټیوب چینلز، 10 ټوئټر اکاؤنټس، 11 انسټاګرام اکاونټس سره سره واټس ایپ ګروپس، ای میل ګروپس، ویکیپیډیا، ټک ټاک او ډیرو سوشل سائټس باندې دا وخت دعوتِ اسلامي خالص دیني او مستند مواد جاري کوي. ټول چې راجمع کړې نو د دعوتِ اسلامي په سوشل میډیا باندې د 100 نه زیات اکاونټس دي، په دې کښې د فالوورز شمیر 470 ملین (Million) یعني 47 کروړ دے او د وِیوز شمیر د بلین (Billion) یعني د 100 کروړو نه هُم زیات ته رسیدلے دے. د دعوتِ اسلامي سوشل میډیا په پاکستان، امریکا، افریقه، یوکے، انډونیشیا، افغانستان، فرانس، لندن، پیرس او عرب شریف سره سره په ټوله دنیا کښې د علم لټوونکو علمي تنده ماتوي. په فیس بک باندې 6.6 Billion ویوز، په یوټیوب باندې مجموعي طور 29 ملین ویوز، په انسټاګرام باندې 3.2ملین، په ټوئټر باندې 6.7 ملین، په واټس ایپ باندې روزانه 170k+ او په اي میل باندې د 110k+ کسانو تلل راتلل وي.

**د زنانؤ دپاره دیني کارونه:** په دې تنظیم کښې خاص د اسلامي خویندو دپاره هُم د دیني کارونو د اشاعت او ترویج ډیر شعبه جات قائم دي. د دعوتِ اسلامي تحت په ملک او بیرونِ ملک کښې دا وخت 10265 مدرسة المدینه بالغات قائم دي، په دې کښې 98 زره 693 اسلامي خویندې زیرِ تعلیم دي. بیا د قرآن پوره وئیوونکې زنانه د بهترینې معلمې (ټیچرې) جوړولو دپاره د مختلفو کورسونو هُم اهتمام دے مثلاً ❁د 12 ورځو معلمه مدني قاعده کورس (رهائشی) ❁د 26 ورځو مدني قاعده کورس (غیر رهائشی) د ❁6 میاشتو

ناظره قرآن کورس (غير رهائشي) ۞90 ورځو او 63 ورځو باندې مشتمل تجويد القرآن کورس۞ د 41 ورځو معلمه مدني قاعده کورس. د اګست 2022 نه تر جولائي 2023 پورې 4 زره او 26 کورسونه شوي دي، په دې کښې 70 زره او 82 زنانؤ شرکت اوکړو. دعوتِ اسلامي په ملک او بيرونِ ملک کښې په سوونو جامعات المدينه ګرلز جوړ کړے دي. په دې کښې تر اوسه پورې 13 زره 4 سوه او 95 زنانؤ د علمِ دين برکتونه حاصل کړي دي او اوس په ټوله دنيا کښې په علمِ دين خوړولو کښې مصروفِ عمل دي. د دې شعبے تر لاندې نور هُم 8 کورسونه کيږي.

## د اندازِ اميرِ اهلِ سنّت انفراديت

د دعوتِ اسلامي رهنمائي کوونکے شخصيت شيخِ طريقت اميرِ اهلِ سنّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دامت برکاتهم العاليه دے، دوئي د الله پاک په ورکړې شوي توفيق سره دعوتِ اسلامي جوړ کړو، د دې د ترقئ دپاره ئې کوششونه اوکړل، د ترقئ په لاره ئې روان کړو د دعوتِ اسلامي بقا او تسلسل کښې د دوئي انداز د انتهائي اهميت حامل دے. د اميرِ اهلِ سنّت دامت برکاتهم العاليه دا کوشش وي چې زمونږه ليکل او وئيل دومره آسانو الفاظو کښې پکار دي چې لوستونکے او اوريدونکے پرې په آسانئ سره پوهه شي، د دې دپاره دوئي د بيان په دوران کښې د مدني مذاکرے د سوالاتو په جواباتو ورکولو کښې او د کتابونو وغيره ليکلو په دوران کښې مشکل الفاظ په آسانو الفاظو کښې بدلوي يا په بريکټ کښې د هغې مطلب ليکي، د هغه لفظ انګلش هم وائي او ليکي ځکه چې ډير خلق د اردو په بعضو الفاظو بالکل نه پوهيږي خو چې کله ورته هُم هغه لفظ په انګلش کښې اوښودلے شي نو بيا پرې پوهه شي. ځکه دوئي دامت برکاتهم العاليه د تسهيل

(یعنې آسانولو) کوشش کوي.

## د مسلمانانو ژوند بدلولو کښې د دعوت اسلامي د تنظیمي نظام کردار:

د دعوتِ اسلامي په ذریعه راپورته کیدونکي دې مَثبَت انقلاب پسې شاته یو مضبوط نظام قائم دے. ستاسو په محله کښې موجود جُمات د دعوتِ اسلامي یوه ذیلي حلقه ده، داسې یو څو ذیلي حلقو نه یو وارډ جوړیږي، د یو څو وارډونو نه یوسِي، بیا ټاؤن/تحصیل، ډسټرکټ، صُوبه، د صُوبو نه پوره مُلک جوړیږي او د دې ټولو دپاسه مرکزي مجلِسِ شوریٰ قائِم دے، د دې لیک د وخته پورې د مرکزي مجلِسِ شوریٰ 26 اراکین دي، په دوئي باندې ملکونه او شُعبے تقسیم دي. په هره سطح باندې ذِمَّه داران موجود دي، هر ماتحت ذِمَّه دار د خپل مافوق ذِمّه دار په فرمانبردارئ کښې کار کوي، د ذیلي حلقے نه تر مرکزي مجلِسِ شُوریٰ پورې په خپلو خپلو کارونو کښې مصروفِ عمل دي او د دعوتِ اسلامي دیني کارونو ته د نورې ترقئ ورکولو په کوششونو کښې لګیا دي.

بیا د مختلفو مجالسو نِظَام دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د 80 نه زیات شعبه جات قائِم دي، د هرې شعبے یو مجلس دے، په دې کښې هُم ذیلي ذِمه دار، وارډ ذِمّه دار، یوسِي ذِمّه دار، بیا د تنظیمي ترکیب مطابق درجه بدرجه ذِمَّه داران او بیا نګرانِ مجلس، بیا د هغوئي نه پاس د هرې شعبے نګراني کوونکے رُکنِ شوریٰ مُقرر وي.

دا پورا تنظیمي نظام (اسټریکچر) په کوڅو، محلو، ورو ورو کلو، او د ښارونو د اطرافو غټو علاقو پورې خور دے. هُم دغسې هر ورُوکے او لوئے د نظم و ضبط د خیال ساتلو سره د دِین په خِدمت کښې مَصرُوفه اوسي.